**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانگه**

**د متحدالمآل گڼه: ۱۲** **نېټه: ۱ / ۲ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** د سترې محکمې محترمې عالي شورا په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټه چې ۱۴۰۱/۵/۱۲ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د محترمې عالي شورى د غړو، د مرکزي دیوانونو رئیسانو، او د مرکزي قضایي ریاستونو د رئیسانو په گډون غونډه وکړه چې د ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق د (۳مه) گڼه تصویب په ترځ کې یې د یو شمېر موضوعگانو په هکله پرېکړه وشوه چې د اسلامي امارت عالي محترم مقام سره شریک کړل شي. له همدې کبله، د یادې جلسې موضوعگانې د اسلامي امارت عالي محترم مقام سره شریکې شوې او محترم عالي مقام د اتمې فیصلې د دویم جزء په هکله داسې هدایت وکړ:

**یادښت:** ((قاضي صاحبان چې په هره کاري ورځ کې څومره موضوعگانو ته رسیدگي کولای شي، په هماغه اندازه خلک دې محکمې ته راغواړي تر څو خلکو ته د بېځایه تکلیف رسېدو مخه ونیول شي.))

بناءً، د پورته یاد مجلس د اتمې موضوع د دویم جزء په هکله د افغانستان اسلامي امارت د عالي محترم مقام پرېکړه د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.